# او زه ضمام بن ثعلبه د بنو سعد بن بكر له قبيلې څخه یم

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي: په داسې حال کې چې مونږ په مسجد کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چې یو سړی په اوښ سپور راغی، اوښه یې په مسجد کې چو کړه او بیا یې پښې ته ولکه ورواچوله، بیا یې هغوی ته وویل: په تاسو کې محمد څوک دی؟ پداسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی په منځ کې ډډه وهلې وه، نو مونږ وویل: دا سپین سړی دی چې ډډه یې وهلې ده، نو سړي ورته وویل: اې د عبدالمطلب زویه! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ما ځواب درکړ (یعنې خبره دې اورم) نو هغه سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زه له تا څخه سختې پوښتنې کوم، نو - زما په پوښتنو - مه غصه کیږه او زړه ته یې مه نیسه (یعنې خوا دې پرې مه بدوه) نو ویې فرمایل: هر څه دې چې زړه کې وي په اړه یې پوښتنه وکړه، نو ویې ویل: زه له تا څخه ستا د رب او له تا څخه د مخکنیو خلکو د رب په نوم پوښتنه کوم چې آیا ته الله تعالی ټولو انسانانو ته لېږلې یې؟ هغه وفرمایل: هو - الله پوهیږي چې زه ریښتنی یم - ویې ویل: زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی تاته امر کړی دی چې مونږ په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه وکړو؟ هغه وفرمایل: هو ، الله پوهیږي چې زه ریښتنی یم، هغه وویل : زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی تاته امر کړی دی چې د کال دا میاشت - رمضان - روژه ونیسو؟ هغه وفرمایل: هو - الله پوهیږي چې زه ریښتېنی یم - ویې وییل: زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی درته امر کړی دی چې زمونږ له مالدارو څخه دا زکات واخلې او زمونږ په غریبانو یې وویشې؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو، الله پوهیږي چې زه ریښتینی یم، نو سړي وویل: هغه څه دې چې راوړي ما پرې ایمان راوړی دی او زه؛ زما تر شا د خپل قوم د خلکو استازی یم، او زه ضمام بن ثعلبه د بنو سعد بن بکر له قبیلې څخه یم.

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکوي چې: صحابه کرام له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په جومات کې ناست وو چې یو سړی جومات ته په اوښ سپور ننوت، نو اوښه یې چو کړله بیا یې وتړله، بیا یې ترې پوښتنه وکړه: په تاسو کې محمد څوک دی؟ پداسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو تر منځه ډډه وهلې وه، نو مونږ وویل: دا سپین سړی دی چې ډډه یې وهلې ده، نو سړي ورته وویل: اې د عبد المطلب زویه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: درڅخه اورم، پوښتنه وکړه چې ځواب درکړم. نو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زه له تا څخه پوښتنې کوم او په پوښتنو کې دربانديې سختي کوم، نو زړه ته یې مه نیسه. یعنې: پر ما مه غصه کیږه او - راسره - مه تنګیږه، نو هغه وفرمایل: څه چې غواړې ویوښته، نو هغه وویل: زه له تا څخه ستا او ستا څخه د مخکنیو د رب په نوم پوښتنه کوم چې آیا ته الله تعالی ټولو خلکو ته لیرلی یې؟ هغه وویل: هو - یعنې الله پوهیږي چې زه ریښتنی یم - د خپلې ریښتینولی د ثبوت په خاطر - یې دا تاکید وکړ . سړي وویل: زه د الله په نوم درڅخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی درته امر کړی دی چې مونږ په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه وکړو؟ او هغه فرض لمونځونه دي، هغه وفرمایل: هو، الله پوهېږي چې زه ریښتینی یم، هغه وویل: زه د الله تعالی په نوم ستا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی درته امر کړی دی چې د کال دا میاشت روژه ونیسو؟ یعنې د رمضان میاشت، هغه وفرمایل: هو، الله پوهیږي چې زه ریښتینی یم، هغه وویل: زه د الله تعالی په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آیا الله تعالی درته امر کړی دی چې زمونږ له مالدارانو څخه دا صدقه واخلې او زمونږ په غریبانو یې وویشې؟ یعنې زکات، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو، الله پوهیږي چې زه ریښتنی یم، نو ضمام اسلام راوړ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم - خپلو ملګرو ته - خبر ورکړ چې هغه به خپل قوم اسلام ته رابلي، بیا یې خپل ځان معرفي کړ چې هغه ضمام بن ثعلبه د بنی بکر له قبیلې څخه دی.